صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز منگل مورخہ 16مارچ 2004 بمطابق 24 محرم 1425ھجری صبح دس بجکر بیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، بخت جہان خان مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

تلاوت کلام پاک اوراس کا ترجمہ

اعوذ باالله من الشیطن الرجیم -بسم الله الرحمن الرحیم

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ
قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ
ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ o وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ
وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ o وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا
جَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ o

(ترجمہ): اور سب مل کر اللہ کی رسی کو مضبوط پکڑو اور تفرقہ میں نہ پڑو۔ اور اللہ کے اس احسان کو یاد رکھو جو اس نے تم پر کیا ہے۔ تو تم ایک دوسرے کے دشمن تھے۔ اس نے تمھارے دل جوڑ دیئے اور اس کے فضل وکرم سے تم بھائی بھائی بن گئے۔ تم آگ سے بھرے ہوئے ایک گڑھے کے کنارے کھڑے تھے۔ اللہ تعالیٰ نے تم کو اس سے بچالیا۔ اسی طرح اللہ تعالیٰ اپنی نشانیاں تمھارے سامنے بیان کرتا ہے۔ تاکہ تم ہدایت پاؤ۔ تم میں سے ایک جماعت ضرور ایسی ہونی چاہیئے جو بھلائی کیطرف لائے اور نیک کاموں کا حکم کرے اور برے کاموں سے روکے۔ اور یہی لوگ فلاح ونجات پانے والے ہیں اور کہیں تم ان لوگوں کی طرح نہ ہو جانا جو فرقوں میں بٹ گئے اور کھل کھل واضح ہدایات پانے کے بعد بھی اختلافات میں مبتلا ہوئے۔ جنھوں نے یہ طریقہ اختیار کیا۔ ان لوگوں کیلئے بڑا عذاب ہے۔

جناب ابراہیم خان: جناب سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: جن معزز اراکین صوبائی۔۔۔۔۔۔

مولانا عبدالرحمن: پوائنٹ آف آرڈر سر!

اراکین کی رخصت

جناب سپیکر: دیتا ہوں میں وقت تھوڑا سا، جن معزز اراکین کی طرف سے رخصت کی درخواستیں موصول ہوئی ہیں، بغرض منظوری میں ایوان کے سامنے پیش کرتا ہوں۔ اسمائے گرامی، جناب ملک قسیم الدین صاحب، ایم پی اے، آج سے اٹھارہ تاریخ تک کیلئے اور جناب حافظ حشمت خان صاحب، وزیر زکوۃ وعشر، آج کیلئے۔ Is it the desire of the House that leave may be granted?

(The motion was carried)

Mr. Speaker: Leave is granted.

سید قلب حسن: پوائنٹ آف آرڈر، سر۔

جناب نادر شاہ: سپیکر صاحب۔

سید قلب حسن: یو ضروری غوندے مسئلہ دہ، سر۔

مولانا عبدالرحمن: سپیکر سر۔

جناب سپیکر: جی جی، وخت درکوم۔ مولانا عبدالرحمن صاحب۔

رسمی کارروائی

مولانا عبدالرحمن: جناب سپیکر صاحب! ہمارا جو چترال ہے تو یہ آپ سب کو معلوم ہے کہ سال میں چھ مہینے یہ پاکستان کے دوسرے حصوں سے کٹا رہتا ہے۔ اس وقت پورے ضلع چترال میں گھی کی قلت ہے، گھی بالکل نہیں ہے اور ملک پیک بھی نہیں ہیں، یعنی زندگی کی ضروریات کی چیزیں کوئی بھی نہیں ہیں اور کل وہاں سے مجھے ٹیلیفون کیا گیا ہے کہ تقریباً اٹھارہ ٹرک گھی ارندو میں کھڑے ہیں لیکن ڈسٹرکٹ ناظم اور کمانڈنٹ کے آپس کے اختلافات کی وجہ سے، کمانڈنٹ صاحب اس کی اجازت نہیں دیتا۔ کل میں نے کمانڈنٹ چترال سے ٹیلیفون پر بات کی وہ اسلام آباد میں تھے تو انہوں نے کہا کہ ابھی یہ میرے اختیار میں

نہیں ہیں۔آپ (I.G (FC سے بات کریں انہوں نے ان کو بند کیا ہوا ہے، لھذا میری درخواست ہے کہ چترال کے حالات کو مدنظر رکھتے ہوئے چترال کا یہ مسئلہ حل کرنا انتہائی ضروری ہے۔آپکی بڑی مہربانی۔

جناب سپیکر: جی سراج الحق صاحب، میں ٹائم۔۔۔۔۔۔۔

جناب نادر شاہ: ما له خو موقع را کړه کنه۔

جناب سپیکر: لږ کینه، مطلب دا دے موقع درکومه، چه یو مسئله را شی بیا۔۔۔۔

جناب سراج الحق (سینئر وزیر خزانہ): بسم اللہ الرحمن الرحیم۔جناب سپیکر صاحب! مولانا محترم نے ضلع چترال کے عوام کے بارے میں گھی کی قلت کے حوالے سے جو مسئلہ اسمبلی میں پیش کیا ہے، یہ آپ کے علم میں ہے کہ موسم سرما کے آنے سے قبل سرحد کی حکومت وہاں پر سیشن کیلئے جو ضروریات ہوتی ہیں، وہ جمع کر لیتی ہے اور انہیں سٹور میں رکھتی ہے اسلئے کہ برف باری کی وجہ سے لواری بند ہو جاتا ہے اور اسکی وجہ سے اشیاء کے آنے جانے میں خاصی دقت اور مشکل پیش آتی ہے اس لئے گندم بھی وہاں پر سٹور کرنا پڑتا ہے اور ضروریات زندگی کی دوسری چیزوں کو بھی جمع کرنا پڑتا ہے لیکن اب چونکہ موسم گرما شروع ہونے کو ہے اور اشیاء کی ترسیل شروع ہو رہی ہے، مولانا محترم نے گھی کے حوالے سے جو بات رکھی ہے،انشاء اللہ ہم اولین فرصت میں وہاں کی ڈسٹرکٹ گورنمنٹ سے بھی رابطہ کرینگے ،انتظامیہ سے بھی رابطہ کرینگے تاکہ گھی کی Availability کو یقینی بنایا جائے۔

جناب سپیکر: سید قلب حسن صاحب، سید قلب حسن کے بعد آپ اور پھر عالمزیب عمرزئی صاحب، میں ٹائم دوں گا۔

سید قلب حسن: محترم جناب سپیکر صاحب! دکوهاټ ډویژن هسپتال په باره کښې مونږ دوه درے ځله گذارشات هم کړی دی خو هغے طرف ته توجه نه کوی۔ په جنوبی اضلاع کښې جناب سپیکر صاحب،دا واحد هسپتال دے چه د دے بلډنگ Complete جوړ شوے دے ، سامان پکښې پروت دے۔

جناب سپیکر: قلب حسن صاحب! زما په خپل خیال که وزیر صحت صاحب پورے تاسو انتظار اوکړئ چه هغوی را شی بیا به تاسو دا خبره اوکړئ۔

سید قلب حسن: ٹھیک شو جی، ٹھیک شو۔

جناب سپیکر: میاں نادر شاہ صاحب۔

جناب نادر شاہ: شکریه، سپیکر صاحب۔ مونږه خو دا خبره مخکښ هم په دے فلور باندے کړے ده، زمونږه چه کوم سړک دے هلته کښ، هغه کچه دے، انتهائی گرد وغبار دے، خلقوته ډیر تکلیف دے۔ نیم کلو میټره ایریا ده او دهغے د اوبو د چهړکاؤ څه بندوبست نیشته، گاډو د جنگیدو هلته خطره ده۔ زما درخواست دے چه سردار ادریس صاحب د ټی ایم اے تحت بهائی ته اووائی چه تاسو سره د اوبو ټینکئ شته دے او تر هغے پورے چه ټهیکیدار نه وی راغلے ،هغه خو تبنتیدلے دے ، چه په دغه سړک باندے چرته کښ یو دوه درے ټائمه اوبه اچوی نو دا به ډیره مهربانی اوکړی ځکه چه ډیر انتهائی تکلیف دے جی خلقو ته، ځوک تیریدے نشی۔ هغه خوا ته کلی چه کوم دی نو هغه د گرد وغبار نه ډک شوی دی۔ مهربانی د اوکړی۔

جناب ابراہیم خان: جناب سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: دیکھیں، میں صرف عالمزیب عمرزئی کو اسکے بعد ٹائیم دوں گا، پھر بعد میں دیکھا جائے گا، جی۔

جناب ابراہیم خان: دوه منټه به ماته هم راکړئ جی۔

جناب محمد ادریس (وزیر بلدیات): جناب سپیکر! انکی تکلیف کا ہمیں احساس ہے اور انشاء اللہ ٹی۔ایم۔او تحت بھائی کو آج ہی اس سلسلے میں Instruction Issue کر دینگے کہ وہ فوری طور پر وہاں پر پانی کا بندوبست کر دیں۔

جناب سپیکر: میرے خیال میں جہاں بھی کام ہو رہا ہے کنسٹرکشن کا، کنٹریکٹر ہو، خواہ وہ ٹی۔ایم۔او ہو، جسکی بھی ذمہ داری ہے، آلودگی سے بیماریاں پھیلتی ہیں تو اگر آپ Generally یہ Instructions دے دیں کہ بھئی وہاں پہ پانی کے چھڑکاؤ کا اہتمام کیا جائے۔ جی، عالمزیب عمرزئی صاحب۔

جناب عالمزیب: مهربانی جی، سپیکر صاحب، یو خو زه تاسو، د دے فوډ تمام دغه چه دی، دغه ته مو رارسولے دی، د اوړو مسئله چه مونږ ته د ملونو۔۔۔۔

(قطع کلامی)

جناب سپیکر: ربانی صاحب چه راشی بیا به تاسو ته موقع درکوؤ۔ ربانی صاحب چه راشی۔

جناب عالمزیب: بنه بل جی ستاسو متعلق، تاسو سره Directتعلق ساتی۔ ماتاسو ته ځان له درے ځله، سپیکر صاحب، زه خو دا خبره نه دغه کوم، دا Clearکومه چه یره تاسو یو اعلان کړے وو په شریکه او نه مونږ په حلقه کښ یو بل سره خوا کښ یو، ماچه توجه دلاؤ نوټس ځومره جمع کړی دی، دا درے ځله سیشن تیر شو، نو ماته ټول واپس شول چه متعلقه منسټر صاحب سره ملاؤ شه او څه چه هم دی، درے درے ځله ئے جمع کړم او واپس، زما اوسه پورے یو هم-----

جناب سپیکر: د قواعدو حواله ئے پکښ درکړے ده؟

جناب عالمزیب: راکړے ئے ده جی، ما پکښ ډیر داسے قراردادونه پیش کړی دی چه زه به مثال------

جناب سپیکر: ګوره که دقواعدو حواله ئے درکړی وی کنه نو مطلب دا دے چه په قواعدو کښ دننه ئے راولیږه۔

جناب عالمزیب: په قواعدو کښ جی ماقرارداد راوستے دے، هغه نه دے شوے لکه ما وئیلی وو چه یره په صوبه سرحد کښ ټیلفون چه دے، دا پچیس کلومیټر لوکل دے او په پنجاب کښ ساٹھ کلومیټر دے۔ دا قرارداد د صوبائی اسمبلۍ نه پاس شی، زمونږ صوبه سرحد کښ د هم داسے شی۔ زما هغه قرارداد نه راځی نو-----

جناب سپیکر: په Drawکښ به وی، انشاءالله رابه شی۔

جناب عالمزیب: نه یره شل، دا جی غونډ ګیډے ما ځان سره راوړے دے، دا ما ته ټول واپس راغلی دی۔

جناب سپیکر: رابه شی۔

جناب عالمزیب: یو خبره کوم، یو خبره مے دا ده سپیکر صاحب،چه ما سره بالکل په دے اسمبلۍ کښ د میرنئ مور سلوک ستاسوپه وجه کیږی۔یوه خبره درته کوم-----

جناب سپیکر: داسے خبره ده چه لږ دا رولز ګوره، داسے ریمارکس ورکول په چیئر باندے چه هغه Reflectionکوی، تاته نه رولز اجازت درکوی، نه قاعده اجازت درکوی۔ دا تاسو واوریدل، مخکښ د رولز------

جناب عالمزیب: خبره د جی زه منم۔ دویمه خبره زه جی کومه یوه۔

جناب سپیکر: درولزو قواعد Studyاوکړه، مطالعه اوکړه او دهغے مطابق بیاخبره اوچتوه۔او، بالکل به راځی۔

جناب عالمزیب: زه چه د رولز مطابق اوچتوم، تاسو له جی چیمبرته ځوځو ځله راغلم ،درته مے اووئیل، یره ځوځو ځله مے درته اووئیل چه زما دا مسئله ده، حل نه شوه، یوه، دویمه خبره جی زما دا ده، دویمه خبره جی زما دا ده۔۔۔۔۔۔

(قطع کلامی)

جناب سپیکر: جی،مرید کاظم صاحب،مرید کاظم صاحب۔

جناب ابراہیم خان: سپیکر صاحب! زه هم ولاړ یمه جی، جناب سپیکر صاحب!

سید مرید کاظم شاہ: اگر اس میں ایک مہربانی کر لیں سر۔عمرزئی صاحب کو ایک شکایت ہے بہت ذاتی جی، اگر اس کیلئے آپ ایک دن مقرر کر لیں تاکہ ہم آپ کے ساتھ بیٹھ جائیں،اسکی چیزیں دیکھ لیں۔۔۔

(قطع کلامی)

جناب سپیکر: جس وقت آپ چاہینگے، میرے خیال میں میرے دروازے تو کھلے ہوئے ہیں۔

سید مرید کاظم شاہ: کہ کہاں پر اور کب کوتاہی ہوئی ہے تو اسکا ازالہ ہو جائے، یہ بہت ضروری ہے جی۔

جناب سپیکر: بالکل۔

جناب عالمزیب: دا یوه خبره جی، دا زما لړه ډیره ۔۔۔۔

جناب سپیکر: بس اوشوه، ستاسو پارلیمانی لیډر خبره اوکړه کنه۔

جناب عالمزیب: یره جی نه، زه یوه خبره راولم بس چه هر څه وی، ماته د سپیکر صاحب نه ډیره زیاته مسئله جوړه ده ځکه چه زه هر وخت وایم، هر وخت خبره کوم چه ماسره سپیکر صاحب ذاتیات کوی۔ تاسو دے هاؤس ټول په شریکه باندے سټینډنګ کمیټو دپاره تاسو چیئرمینان Select کړے وو۔۔۔۔۔۔ (قطع کلامی)

جناب ظفر اعظم (وزیر قانون): جناب!یہ۔۔۔۔۔

جناب عالمزیب: لاء منسٹر صاحب، ماته به لږ ټائم راکوئ، زه خپله خبره به کوم۔

وزیر قانون: جناب! یہ رولز اور قواعد کے خلاف ہے، چیئر پر اعتراض کرنا جی، میرے خیال میں۔

جناب سپیکر: بہر حال ان سے یہ توقع کی جاتی ہے، انکو اجازت ہے، یہ Relaxation میں ان کو دیتا ہوں، ان سے توقع یہی کی جاتی ہے۔ جو کچھ آپ کہنا چاھیں، میں آرام سے سنوں گا۔

جناب عالمزیب: ٹھیک دہ بالکل۔ د سٹینڈنگ کمیٹو تاسو لہ دے ھاؤس اجازت درکڑے وو، مونږہ د چا Choice نہ وو کڑے چہ یرہ ما د دے کمیٹئ چیئرمین کڑہ او ما د دے کمیٹئ چیئرمین کڑہ۔ نہ مے سفارش کڑے دے کہ چا تہ مے کڑے وی، راتہ اووایہ چہ تا، صرف تپوس مے کڑے دے چہ پہ کومہ کمیٹئ کښ مو اچولی یو؟ وروستو پتہ اولگیدہ چہ فلانکئ کمیٹئ کښ چیئرمین ئے، فلانکئ کښ ممبرئے۔ عزت لرم پہ عزت خفہ کیږم، یوہ کمیٹئ کښ بہ مو ھم نہ اچولم، دړومبی نہ بہ مو ممبر اچولم او نہ بہ مو پہ کمیٹئ کښ اچولم۔

جناب سپیکر: کہ اوس تاسو مناسب گنړئ نو استعفیٰ ورکولے شئ او دے معزز ایوان ماتہ اختیار راکړے وو د کمیٹو د جوړولو، دا معزز ایوان د بیا خپلہ فیصلہ واپس واخلی، ماتہ ھیڅ اعتراض نشتہ۔

جناب عالمزیب: سپیکر صاحب! زہ چہ خبرہ ختمہ کړم نو بالکل تہ چہ څنگہ وائے نو زہ بہ بیا خبرہ اوکړم۔

جناب سپیکر: زہ تاتہ وایم چہ تہ پہ آرام کینہ، پہ خپل ځائے بس۔

جناب عالمزیب: تاسو زما صرف-----

جناب سپیکر: زہ تاتہ فلور نہ درکوم، فلور درتہ نہ درکوم۔ زہ درتہ فلور نہ درکوم۔

جناب عالمزیب: تاسوماتہ فلور نہ راکوئ، ھیڅ خبرہ نہ دہ جی، مہ راکوئ۔ مونږہ تاسو تہ اجازت درکړے وو، ستاسو سیاست-----------

جناب ابراہیم خان: جناب سپیکر صاحب، جناب سپیکر صاحب! یو منټ جی۔

آڈٹ رپورٹس کا ایوان کی میز پر رکھا جانا

Mr. Speaker: Next, jee. Item No.8, the Honourable Minister for Finance N-W.F.P, to please lay on the table of the House the following reports of Auditor General of Pakistan:-

1. Finance Accounts for the year, 200 and 2001.
2. Appropriation Accounts for the year, 2000 and 2001.
3. Audit reports for the year, 2000 and 2001.
4. Revenue Receipts for the year, 2000 and 2001.

Honourable Minister for Finance please.

(اس مرحلے پر معزز رکن عالم زیب نے احتجاجاً ایوان سے واک آؤٹ کیا)

جناب ابراہیم خان: جناب سپیکر صاحب! زه هم د شروع نه ولاړ یمه جي اول، سپیکر صاحب، جناب سپیکر صاحب، زه هم ټولو نه اول ولاړ وومه جي۔ سپیکر صاحب! هم دغه شان زیاتے ماسره هم کیږی۔

جناب سپیکر: وروستو ټائم درکوم تاته۔

جناب ابراہیم خان: زه هم دټولو نه اول ولاړ یمه، هم دغه شان زیاتے ماسره هم کیږی۔

جناب سپیکر: روستو ټائم درکوم۔

جناب ابراہیم خان: دټولو نه اول جی، زه ولاړ یمه۔

جناب سپیکر: د دے نه روستو ټائم درکوم۔

سینئر وزیر خزانہ: ایجنڈا کے مطابق مجھے فلور دیا گیا ہے جناب سپیکر صاحب! میں جناب آڈیٹر جنرل آف پاکستان کی درج ذیل رپورٹس اسمبلی میں پیش کرتا ہوں:

نمبر 1۔ فنانس اکاؤنٹس برائے سال 2000تا2001، مختص کردہ حسابات برائے سال 2000تا 2001، آڈٹ رپورٹس برائے سال 2001-2000 اور مالی محصولات برائے سال 2001-2000

آڈٹ رپورٹس کا پبلک اکاؤنٹس کمیٹی کو ریفر کیا جانا

Mr. Speaker: The reports stand laid. Now the Honourable Minister for finance, N-W.F.P, to please move that the said Reports of Auditor General of Pakistan may be referred to the Public Accounts Committee, Honourable Minister for finance please.

سینئر وزیر خزانہ: جناب سپیکر صاحب! میں تحریک پیش کرتا ہوں کہ مذکورہ بالا رپورٹس کو پبلک اکاؤنٹس کمیٹی کے حوالے کیا جائے، شکریہ۔

Mr. Speaker: The motion before the House is that the reports of the Auditor General of Pakistan may be referred to the Public Account Committee. Is it the desire of the House that the Reports of the Auditor General of Pakistan may be referred to the Public Account Committee?

(The motion was carried)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it, the reports are referred to the Public Accounts Committee. Jee, Qasmi Sahib.

مولانا محمد احمد لدھیانوی کی ضلع ہری پور میں داخلہ پر پابندی

جناب ابراہیم خان: شکریہ، جناب سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر صاحب! تقریباً د بارہ سال نه مسلسل زمونږه دے هری پور کښې به یو پروګرام کیدلو د تحریک عظمت صحابه د طرف نه، هغه پروګرام مسلسل باره سال به کیدو خو چه کله جی زمونږه اسلامی حکومت راغلے دے نو هغه پروګرام کښې جی مختلف رکاوټونه پیدا کوی۔ دوئ، مخکښې به جی داسے وه چه په یکم محرم باندے به په شیعه سنی علماء پابندی اولګیده، دا زمونږ پروګرام به جی په پندره مارچ باندے وو۔ په هغے کښې به دهغه وخت ضلعے انتظامیے د یوے ورځے Relaxation ورکړو او مولانا اعظم طارق صاحب یا مولانا حق نواز جهنګوی صاحب به راغلو او تقریر به ئے اوکړواو لاړل به۔ دا ځل جی، چه کله نه زمونږه اسلامی حکومت راغلے دے نو په هغے کښې تیر کال هم دغه شان اوشوله چه زمونږه صوبائی حکومت په مولانا صاحب پابندی اولګوله۔ بیا هغے کښې مونږه خبرے اوکړے خو هغه او نه شوه۔ دے ځل مونږه بیا مولانا محمد احمد لدهیانوی صاحب راغوښتے وؤ او ما دا حکومت ته اووئیل چه دا زه ګارنټی درکوم چه د قرآن او حدیث نه علاوه یوه خبره به بهر نه وی۔ ما وئیل که د دے نه علاوه بله خبره بهر وه، بالکل زه به د اسمبلئ د رکنیت نه استعفیٰ ورکړم خو ماته جی ډیر افسوس دے چه هغه سیکولر حکومتونو کښې چه هغه تاسو به ورته، دلته زمونږ دے رونړو به ورته دیهود وایجنټان وئیل، د امریکے ایجنټان به ئے وئیل، په هغے کښې به اجازت وؤ۔ مونږه به د صحابو عظمت بیا نولے شو لیکن نن ډیر افسوس ماته اوشولو جی جناب سپیکر صاحب، زمونږ دے اسلامی (تالیاں) حکومت کښې د صحابه عظمت باندے پابندی ده۔ دے کښې جناب سپیکر صاحب، څه مسئله ده؟ زما خیال دے د صحابو د دشمنانو د خوشحالو نونه علاوه نور هیڅ نشته دے۔ که چرے پابندی وی خوپکار ده چه په مخالف فریق باندے هم پابندی لګیدلے وے، دهغوی د هم پروګرامونه بندشی کنه، هغوی خو کهلاؤ زمونږ د قائد د قاتل باره کښې پروګرامونه کوی چه هغه قاتل د رها کړے شی،

ولے زمونږه دل آزاری کیږی؟ زه دا تپوس خپل دے حکومت نه کوم چه آخر څه مجبوری ده؟ آخر څه وجه ده چه زه تاسو ته دا لیکل درکوم چه زه ستاسو ملګرے یمه، ما تاسو سره هر ممکن تعاون کړے دے، ما د دنیا هر یو مراعات تاسو دپاره پریښودے دی لیکن دا ډیره د افسوس خبره ده (تالیاں) او زما دپاره هم ډیره دغه خبره ده چه زه خپل قائد خپل ځائے ته نشم راوستے۔ پرون جناب سپیکر صاحب، زما قائد راغللو او کله چه حسن ابدال ته راغلو، هری پور ته داخلیدو نو په داسے انداز کښ لکه چه کله یو مجاهد امریکے یا برطانیے ته ځی او هلته کوم قسم له دغه تپوسونه کیږی جی، هغه ئے واپس کړلو او ډیرے بے عزتئ سره جی هغه واپس شولو نو ماته ډیر افسوس اوشولو چه زه دے حکومت کښ ناست یمه، زه خو تاسو سره هر ممکن تعاون کوم، ستاسو د وجے نه ما خو په خله باندے لاس ایښودے دے، ټوله صوبه کښ چه مونږه خپل پروګرامونه بند کړی دی په دے وجه چه صوبائی حکومت ته څه مسئله پیدا نه شی خو افسوس چه هغه هیڅ هم پکښ اونه شو بلکه ما ټولو ذمه دارانو سره رابطه اوکړه چه تاسو خدائے دپاره حالات په زور مه خرابوئ۔ اوس مخکښ چهلم راروان دے، تر کومے به زه دا خپل کارکن کنټرول ساتم؟ ما خو هغوی هر ممکن کنټرول ساتلی دی، هرڅه ما هغوی باندے بند کړی دی لیکن ماته ډیر افسوس دے جناب سپیکر صاحب، چه حکومت بالکل ما سره پکښ تعاون اونه کړلو او په دے کښ وجه څه وه؟ زه دا تپوس کوم چه ماته د هغه وجه اوښائی چه هغه څه قسمه مجبوری وه، که چرته د سیکورټی وجه وه او تاسو نه شوه کولے نو ما هم هغه حکومت ته اووئیل چه ټهیک ده تاسو نه شئ کولے، تاسو دومره کمزوری یئ، هغه هم ماته ذمه واری حواله کړئ، هغه هم الحمدلله ما کښ دومره همت شته چه زه دخپل میلمه حفاظت اوکړم۔

(تالیاں)

(اس مرحلے پر عالمزیب احتجاج ختم کرکے ایوان میں واپس آ گئے)

<u>*جناب ابراهیم خان:*</u> زه دخپل میلمه خیال اوساتم نو جناب سپیکر صاحب، ماته د حکومت دا وضاحت اوکړی، د دے نه علاوه جناب سپیکر سر، څنګه زما ورور عالمزیب صاحب خبره اوکړه، یو کال اوشو جی، مایو قرارداد جمع کړے دے ،خلفائے راشدینؓ ایام سرکاری سطح باندے مناؤولو دپاره او دا جی حسب وعده، مشرانو دا وعده ما سره کړے وه چه دا به دلته کښ سرحد اسمبلئ نه منظوریږی۔ یو کال اوشو، هغه قرارداد ولے نه راځی جی؟ جناب سپیکر! زه په دے باندے بهرپور احتجاج کوم چه نه زما قرارداد راغلو او زما قائد سره هم دغه شانتے زیاتے او دا بار بار، او هغه وخت نه شروع دے چه کله نه زمونږه

اسلامی حکومت قیام کبن راغلے دے۔ مخکبنے خو به دا وه چه تاسو به دا اووئیل چه دا د امریکے حکومت دے، دیهودو ایجنټانو حکومت دے، اوس زه څه نامه ورکړم؟

جناب سپیکر: جی شکریہ۔ جی، سردار ادریس صاحب۔

محترمہ رفعت اکبر سواتی: اچھا بات کرلیں، تو۔

وزیر بلدیات: جناب سپیکر! جناب قاسمی صاحب نے یہاں ایوان کے سامنے جو بات رکھی ہے، یقیناً جو انکا احتجاج ہے، اسکے اندر حقیقت ہے اور موجودہ اس طرح کے مسائل پورے صوبے کے اندر موجود ہیں اس لئے کہ نیا لوکل گورنمنٹ کا آرڈیننس جو 2001 میں بنا تو اس کے اندر لاء اینڈ آرڈر کی ساری ذمہ داری ڈسٹرکٹ گورنمنٹ کو دی گئی ہے اور ہم اس بات کی مکمل طور پر تحقیقات کرینگے۔ آج ہمارے نوٹس میں یہ بات آئی ہے کہ ڈسٹرکٹ گورنمنٹ نے ان پر کیوں پابندی لگائی؟ انکو کیوں واپس کیا گیا؟ یقیناً میری سراج صاحب سے بھی یہی بات ابھی ہو رہی تھی۔

جناب ابراہیم خان: جناب سپیکر صاحب۔۔۔۔

جناب سپیکر: منسٹر صاحب کو سنیں پھر۔

وزیر بلدیات: اور انشاء اللہ تعالیٰ اس کی تحقیقات کر کے جو بھی اس کا مرتکب پایا جائیگا، اسکو ہم سزا دینگے اور اس طرح کسی کی بھی صوبے کے اندر آنے جانے پر کوئی پابندی نہیں ہے اور ڈسٹرکٹ گورنمنٹ نے اگر اس طرح کیا ہے تو اس سلسلے میں ہم بیٹھ کر بات کریں گے کہ انہوں نے کن وجوہات کی بناء پر اور آخر وہ کونسی ایسی لاء اینڈ آرڈر کی Situation پیدا ہو گئی تھی جس کی بنیاد پر انکو واپس کیا گیا اور انشاء اللہ تعالیٰ آئندہ اس طرح کے اقدامات کو روکنے کیلئے ہم ایک واضح گائیڈ لائن ڈسٹرکٹ گورنمنٹ کو بھی ایشو کرینگے لیکن Entirely لاء اینڈ آرڈر کی Responsibility، جیسا کہ آپ سب کو معلوم ہے کہ 2001 میں پولیس آرڈیننس 2002 کے تحت جو ہے، یہ ڈسٹرکٹ گورنمنٹ کی ذمہ داری ہے، پراونشل گورنمنٹ کی نہیں ہے اور اس ضمن میں ہم انشاء اللہ تعالیٰ چیف منسٹر صاحب سے بھی بات کرینگے۔ ابھی میری سینئر منسٹر صاحب سے بھی بات ہوئی ہے اور اس مسئلے کو انشاء اللہ تعالیٰ مستقل طور پر حل کرینگے۔

جناب ابراہیم خان: په دے کبن جی زه دیو خبرے وضاحت اوکړم چه ډسټرکټ ګورنمنټ جی، دا وئیلی وو چه زمونږه هیڅ اعتراض نشته، تحریری ئے ورکړی وو ډسټرکټ، ضلعی انتظامیے دا وئیلی وو چه زمونږه هیڅ اعتراض نشته دے جی،

مسئله د صوبائی حکومت وه جی۔ ډسټرکټ ناظم دا لیکلی ورکوی چه زمونږه څه اعتراض نیشته مولانا د راشی۔

محترمہ رفعت اکبر سواتی: مسٹر سپیکر سر! اگر آپکی اجازت ہو تو آپکے-----

جناب بشیر احمد بلور: منسټر صاحب خو ډیرے ښکلے خبرے اوکړے او دوئ On the flour of the House categorically دا خبره اوکړه چه صوبے میں آنے جانے پہ کسی کی پابندی نہیں ہے تو اسکا مطلب ہے کہ آئندہ کوئی پابندی نہیں لگے گی۔ صوبے میں لوگ، علماء صاحبان آئینگے، جائینگے، انکی Commitment آپ نے سن لی ہے، میرے خیال میں تو آئندہ اس پر عمل ہوگا تو آپ مہربانی کریں---

جناب سپیکر: رفعت اکبر سواتی صاحبہ۔

قومی کمیشن برائے خواتین میں صوبہ سرحد کی نمائندگی

محترمہ رفعت اکبر سواتی: جی، شکریہ سپیکر صاحب۔ آپکی آنریبل چیئر کی میں توجہ اس طرف دلوانا چاہتی ہوں کہ جو National Commission on the Status of Women پہ تقرریاں ہو چکی ہیں، وہ بڑی کوئی Un-democratic طریقے سے ہوئی ہیں۔ ان میں Justice نہیں ہوا ہے اور میں تمام صوبہ سرحد کی اس اسمبلی کی ایم پی ایز کے Behalf پہ آپکے نوٹس میں بھی یہ بات لا رہی ہوں اور ہم Protest lodge کرتے ہیں کہ ایم این اے ایک سنٹر سے انہوں نے منتخب کر دی ہے اور ایک کوئی ناظمہ ہے یہاں پر۔ مجھے سمجھ نہیں آتی کہ ہم خواتین پورے صوبہ سرحد کو Represent کر رہی ہیں، ہمیں Ignore کیا جا رہا ہے، ہمار کوئی نوٹس ہی یہاں نہیں لے رہا کہ ہم خواتین یہاں کس کارکردگی کیلئے بیٹھی ہوئی ہیں؟ (قطع کلامی) نہیں، یہ مذاق کی بات نہیں ہے، یہ بڑی Serious بات ہے، اس کے بڑے Long term repercussion ہونگے۔ جو لوگ ان Related field سے ہیں، جنھوں نے سول سوسائٹی آرگنائزیشن میں کام نہیں کیا ہوا، جنھوں نے کسی قسم کے ویلفیئر اور سوشل سیکٹر میں کام نہیں کئے انکو کیا خبر ہے کہ یہ سارا سلسلہ کیا ہے؟ جو Expertise آپکے پاس موجود ہیں، ان کو کیوں نہیں استعمال کیا جاتا؟ تو اس وجہ سے میں آپ سے یہ درخواست کرتی ہوں کہ ہم تمام خواتین متفق ہیں اس بات پہ کہ ہم ایم پی ایز اس لائق ہیں، اس

قابل ہیں کہ اس صوبے کی نمائندگی بھی کر سکیں، نیشنل کمیشن میں بھی آ سکیں اور اگر ہماری اس بات پہ کوئی توجہ نہیں دیتا تو سر، ہم As a protest walk out کرتے ہیں اور اسکے بعد پھر آپ فیصلہ خود کرینگے۔

محترمہ نعیم اختر: جناب سپیکر صاحب! په دے باره کښې ما تاسو ته یو تحریک التواء پیش کړے وؤ۔ هغه تاسو ما ته واپس کړو چه په دے وجه باندے مونږه واپس کوؤ چه د دے کمیشن سلیکشن شوے دے خو د دے کمیشن سلیکشن نن اوشو۔ هغه بیا هم ما واغستو، ما غږ او نه کړو۔ منسټر صاحب سره مونږه خبره، دا معمولی کمیشن نه دے، دا هغه کمیشن دے چه دا بین الاقوامی Laws جوړوی۔ د دغه کمیشن د لاسه نن مونږه دلته راغلی یو نو جناب سپیکر صاحب، په دے باندے مونږه منسټر سره خبره اوکړه، هغه اووئیل چه کله دا کمیشن جوړیږی، زه به ایم پی ایز ته وایم۔ بیا مونږه چونکه د هغے کمیټۍ ممبران هم یو مونږ کمیټی جوړه کړه، کمیټۍ مونږ ته دا جواب راکړو چه مونږ ورته د تمام این جی اوز نومونه لیږلی دی ځکه چه شرط دا دے چه په دے کښې Elected خلق نه اخلی نو اوس دا Elected خلق څنګه واغستے شو؟ صرف مونږ Elected نه شی اغستے، صرف د یو جماعت اغستے شی۔ د غسے Steering Committee جوړه شوه او په هغے کښې دوه د یو جماعت نه، زه نه وایم بلکه د یو کور دوه فیمل پکښې واغستے شوے نو سر، دا ډیر بے انصافے دے چه مونږه خو ناست دلته یو صوبائی لاء مونږ د خواتین دپاره دلته جوړوو او چه بیا خبره چرته لږ په لویه سطح لاړه شی نو زمونږه ایم پی ایز پکښې بالکل Ignore شی او هغوی پکښې نه اخلی۔ دے کښې یو Un-elected خلق اغستے شوی دی او دا زمونږه د کمیټۍ Insult دے چه مونږ ته ئے په هغے کښې Written راکړی دی، د هغے ریکارډ موجود دے چه هغے کښې مونږ ته ئے وئیلی دی چه مونږه به دے کښې Elected خلق نه اخلوا و دے ته مونږه د این جی اوز نومونه لیږلی دی، نن څنګه یو ایم این اے او یو ناظمه د یو جماعت Elected شو؟ زمونږ ایم پی اے هیڅ د غه اونه شو نو د دے خلاف به مونږه واک آؤټ کوؤ او تر هغے پورے۔ (تالیاں)

(اس مرحلے پر خواتین ارکان اسمبلی نے ایوان سے احتجاجاً واک آؤٹ کیا)

جناب عالمزیب: سپیکر صاحب! فوډ منسټر صاحب راغلو، که ستاسو اجازت وی زه به هغه خبره اوکړم۔

جناب سپیکر: فوډ منسټر صاحب قلب حسن صاحب سره ـــــ

جناب عالمزیب: نه، زما د دوئ سره وه او دهغوی هیلتھ سره ده۔

جناب سپیکر: ښه جی، جی۔ (شور)

جناب عالمزیب: نه نه، اوس د ده سره د اوړو خبره ده، دا خو د قوم خبره ده کنه جی، او۔ (شور)

(اس مرحلے پر حزب اختلاف کے ارکان نے ایوان سے واک آؤٹ کیا)

جناب سپیکر: جی، عالمزیب عمرزئی صاحب، عالمزیب عمرزئی صاحب۔

جناب عالمزیب: خپله خبره کوم جی۔

جناب سپیکر: عالمزیب عمرزئی صاحب، عالمزیب عمرزئی صاحب۔

جناب عالمزیب: خبره کوم۔ خبرے ته مے نه پریږدی جی۔

جناب سپیکر: عالمزیب عمرزئی صاحب۔ (شور)

صوبے میں آٹے کی مہنگے داموں فروخت

جناب عالمزیب: جی دا فوډ مسنټر صاحب ناست دے، په صوبه سرحد کښې د اوړو د ملونو مختلف ریټونه دی او په سابقه دور کښې تهیلئ د اوړو چه وه، دهغے قیمت وو 170روپئ، په دے وخت سره چلیږی 260روپئ او مختلف ریټونه په مختلفو ملونو کښې روان دی نو ماته د منسټر صاحب دا Explainکړی، دا دغریبانانو زمونږه د دے خلقو د اوړو، دا خو د خوراک مسئله ده، دخیټے مسئله ده چه دا څه مسئله ده او څه وجه ده چه اوړه ولے نه ملاویږی او ولے ګران دی؟ څه خبره ده؟

جناب سپیکر: جی، ربانی صاحب۔

جناب فضل ربانی (وزیر خوراک): بسم الله الرحمن الرحیم۔ جناب سپیکر صاحب! صوبه سرحد دغنمو په لحاظ سره Deficit Provinceدے۔لس لکهه ټنه غنم خپل پیدا کوی، شل لکهه ټنه غنمو ده ته ضرورت وی۔ مونږه، چونکه امپورټ او ایکسپورټ صوبائی سبجیکټ دے نه، مونږه ډیر بروقت خپل ضرورت دصوبے مرکز ته

ایښودے وو۔ مونږه په اسلام آباد کښې په هر میټنګ کښې په کیش باندے دغنمو اغستلو خبره کړے ده۔ سږکال صوبه پنجاب صوبه سرحد ته یوه دانه غنم هم نه دی ورکړے۔ مونږه خپله خریداری د پاسکو نه کړے ده۔ بیا مونږ په اوله کښې وئیلی وو چه غنم کم دی، تاسو غنم راوغواړئ۔ بیا دوئ، مرکز اووئیل چه پنځه لکهه ټنه غنم مونږه راغواړو۔ پنځه لکهه ټنه نه خبره یو نیم لکھ ټن له ئے راوسته۔ یونیم لکھ ټن کښې اتیازرو له ئے راوسته۔ اتیا زره ټنه چه کله کراچئ ته راغلل، مونږه خپل ټول انتظامات اوکړل۔ وئیل ئے چه دا غنم خراب دی، پکار خو دا وه چه دا ئے په آسټریلیا کښې کتلے وے او هلته ئے په دے فیصله کړے وے، چه کله غنم راغلل، مونږ ورته خپل انتظامات اوکړل، مونږخپل خلق اولیږل نو وئیل ئے چه داغنم خراب دی۔ دے کښې Fungus دی او دا مونږه نه ورکوؤ۔ دغه وجه ده چه په دے وخت کښې مونږه کومه پالیسی دغنمو داوړو په دے صوبه سرحد کښې اوچلوله، دے ټولو ملګرو ته به پته وی، ذرائع ابلاغ کښې دا خبره راغلے ده چه کراچئ کښې کوم ریټ اوچلیدو، هغه د صوبه سرحد نه شپیته اویا روپپورے په بیس کلو تروړه کښې هائی اوچلیدو۔ هم دغسے په اخبار کښې راغلی دی اوپه نیوز اخبار کښې یو پورا آرټیکل په دے راغلے دے چه اسلام آباد کښې قلت هم راغلے دے او په ټی وی او په ذرائع ابلاغ د هغه ځائے زمه دارو کسانو هغه تسلیم هم کړه چه واقعی دلته قلت راغلے دے۔ مونږه باوجود ددے چه زمونږه صوبے ته شل لکهه ټنه غنم ضرورت وی،د الله فضل سره د کرائسیز حالات نه دی پیدا شوی۔دے نه مخکښې هم دلته حکومتونه تیر شوی دی۔دے نه مخکښې هم دلته خلقو لیدلی دی هغه قطارونه،هغه وهل،مونږه باوجود دمرکزسره دیو ډیر لوئے اختلافی دور په نتیجه کښې بیا هم مونږ ته دلته حالات د کرائسیز نه دی جوړ شوی، انشاالله د پندره،بیس ورځو خبره ده او دلته مونږه په Availability باندے ښه کافی زور ورکړے دے۔زمونږ صوبے سره دومره غنم شته هم نه چه مونږ ئے ټولو ملونو ته سپلائی کړو۔چه کله مونږ راغلوپه هغه وخت کښې ډیر لږ ملونه چالو وو، اوس د الله فضل سره ددے ځائے انډسټری ته هم مونږ توجه ورکړے ده او په دے وخت کښې ایک سو چالیس ملونه په دے صوبه کښې چالو دی او هغه زمونږ د مزدورانو او د خلقو یو ضرورت دلته پوره کوی۔په دے توجه بالکل برحق ده خو زمونږ په صوبه کښې غنم شل لکهه ټنه غنم کم

کیږی او مونږ په دے مکمل سټینډ اغستے دے چه آئین دا وئیلی دی چه هیڅ څوک یوے صوبے ته فوډ آئټم بندولے نه شی او په دے وجه مونږ په دے باندے اوس هم مضبوط ولاړ یو، ښه که چرے چا داسے حرکت اوکړو چه صوبه سرحد ته داوړو کومه Flow ده، هغه ئے بنده کړه یا ئے څه پاټک اولګولو دا مونږ هغوی ته وئیلی دی چه تاسو دے صوبے ته کوم Message ورکوئ نو بیا مونږ په دے مجبوره کیږو چه د هغے خلاف به مونږه یو ایکشن اخلو انشاالله۔ مرکز ته مونږه چه کله وئیلی دی چه کیش پیسے ورکوؤ ماله غنم راکړه او ماته ئے وئیل چه امپورټ او ایکسپورټ پراونشل سبجکټ دے نه۔ انشاالله مونږ سره به عالم زیب عمرزئی صاحب او د دوئ ملګری هم په دے کښ کلک اودریږی چه مونږ دے پیرے چه څومره ضرورت وی، هغه مونږ له مرکز پوره کړی او یا مونږ ته د دے اختیار راکړی چه مونږه د کوم ځائے نه هغه پوره کوؤ چه هغه مونږ پوره کړو۔

<u>جناب عالم زیب:</u> مرکز خو اوپن کوټه ساتلے ده، په پنجاب کښ بیا ولے نه دی ګران ،بلوچستان کښ بیا ولے نه دی ګران، په بله صوبه کښ ولے نه دی ګران؟ هلته خو اوس دد ے وخت سره ریټونه ټهیک دی۔

<u>جناب محمد امین:</u> سپیکر صاحب! د هاسټل په حواله سره زه یوه خبره کول غواړم۔ <u>وزیر خوراک:</u> ماخو درخواست اوکړو جی، عالمزیب عمرزئی صاحب په دے وخت کښ چه کومه خبره کوی چه هلته Rates ګران نه دی، دا خبره صحیح نه ده، هر ځائے Rates ګران دی۔ کراچئ په شل کلو کښ شپیته روپئ ګرانه ده۔ پنجاب کښ هم دغه ریټ دے۔ یو ځائے ریټ کم نه دے او چونکه په دے وخت کښ په ټولو صوبه کښ فوډ-----۔

<u>جناب عالم زیب:</u> 209 روپئ پنجاب دے په دے وخت کښ۔

<u>وزیر خوراک:</u> آئټمز باندے هیڅ پابندی نشته ټ Perfect competition دے هرګز پنځوس روپئی یپ یو تروړه کښ فرق نشته ،صرف د څلورو او د پنځو روپو فرق دے ۔ Perfect competition وائی دی ته عمرزئی صاحب د اکنامکس دا اصول دی چه کله په اسلام آباد کښ دد ے ځائے نه پنځوس روپئی فرق وی ،بیا به ټول اوړه دلته

راروان وی۔ بیا ئے ھلته ئوک نه خرځوی۔خوصرف د څلورو پنځو روپو فرق دے او هغه هم د Transportation charges فرق دی۔

جناب عالم زیب: دا چه چا گهتئ راوړے وی، زه د جواب نه مطمئن نه یم۔

جناب سپیکر: عمرزئی صاحب، په دے Discussion،عمرزئی صاحب خبره۔۔۔۔۔۔

جناب عالم زیب: یوه گهتئ چارسے ته ئے ،سپیکر صاحب، یو سیکنډ،څلور گهتئ چا راوړے وے په څادر کښ ئے دغه کړے وے ،په کم قیمت هغه شوی دی۔

جناب سپیکر: عمرزئی صاحب۔

وزیر خوراک: عمر زئی صاحب د اسمبلئ په فلور دا خبره اوکړوچه هغوی له د اسلام آباد نه اوړه راځی، مونږ د عوامو د پاره غم کوو او ذاتی خبره چه تاسو له څلور تروړے راغلے دی، هغه به تاسو باندے چا مهربانی کړے وی،د هغے شکریه آدا کوو۔

جناب سپیکر: جی، محمد امین صاحب۔

جناب محمد امین: شکریه، جناب سپیکر صاحب۔

مولانا محمد مجاہد خان الحسینی: جناب سپیکر صاحب!

جناب محمد امین: زما عرض دادے جی چه تیره هفته کښ چه د اسمبلئ اجلاس شروع شو، سپیکر صاحب، داسمبلئ اجلاس چه کله شروع شو، په اولنئ ورځ باندے زمونږه څه ملگرودا خبره راپورته کړے وه چه د ایم۔پی۔اے هاسټل حالات انتهائی زیات خراب دی۔ د یوے هفتے نه زیات وخت اوشو جی چه تر دے وخته پورے په هغے کښ هیڅ قسمه بهتری رانغله بلکه زه به دا عرض اوکړمه جی چه ستاسو د کلی یو اډه ده باشکته،زمونږه جی دا بلاک چه کوم دے په هاسټل کښ، د هغے حالت د هغے نه هم زیات بد تر دی ځکه چه هلته کښ داسے Irrelevantاو غیر متعلقه افراد اوسی، بلکه یو پولیس افسر پکښ دیره دے نو هغه پسے جی د شپے دولس بجے او په یوه بجه باندےاو سحر وختی بلاشے پولیس راځی او د هغوی سلامئ دپاره عجیبه عجیبه خلق راځی او د گاډو یو ډر خرجوړ دے چه هغے په وجه باندے

ډیره زیاته پریشانی ده او ډیر زیات Disturbance دے۔زما گزارش دادے جی چه لږ شانتے په دے هاسټل باندے توجه ورکړئ چه کوم غیر متعلقه افراد دغلته کښې اوسی او سرکاری افسران دی،د هغوی دپاره د خپل خپل کورونه او دریذیډنشل پروگرام شته دے نو لږ د هغے د هم جائزه واغستے شی او چه دا کوم غیر متعلقه افراد دی نو دهغوی داخله د هاسټل ته ممنوع شی۔

جناب سپیکر: دا خبره زما په نوټس کښې راغلے ده خوزه خپل معزز آراکین صوبائی اسمبلی چه څوک په ایم پی اے هاسټل کښې اوسی،هغوی د مهربانی اوکړی چه د دے خپل هاسټل هغه Status د Misuse کوی نه، ځکه چه هغوی دا کسان راوستی دی دا تاسو چه کوم نشاندهی کوی لهذا زه ددے چیئر نه دا هدایت ورکوم چه Outsider به هیڅ کله په هاسټل کښې یعنی هغه Outsider چه هغه سرکاری نوکروی،یو خو د ایم پی اے میلمه چه هغه راځی، هغه به Exempted وی خو کوم سړے چه مستقل طور پاتے کیږی او سرکاری ملازم وی، هغه بالکل په هاسټل کښې نه شی پاتے کیدے۔

مولانامحمد مجاہدخان الحسینی: جناب سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: خو ایم۔پی۔اے به په دی سلسله کښې تعاون کوی ځکه چه هغوی کمره په خپل نوم کړی او سرکاری نوکر راولی نو ددے به بیا مونږ تحقیقات کوو، که دا سے خبره شوی وی نو هغه الاټمنټ به مونږ کینسلوؤ۔

مولانامحمد مجاہدخان الحسینی: جناب سپیکر صاحب، یو منټ ماته راکړه۔

جناب ظفراعظم (وزیرقانون): جناب سپیکر صاحب، میں اپنی بہنوں کامشکور ہوں اور بھائیوں کابھی اور میں ان کو یہ یقین دلاناچاہتاہوں کہ جب بھی ہمارے منسٹر صاحب آجائیں اور Nomination جس طریقے سے ہوئی ہے،اگران کے ساتھ زیادتی ہوئی ہوتواس زیادتی کاہم ازالہ ضرور کریں گے،انشاءاللہ تعالیٰ۔

جناب سپیکر: جی۔

محترمہ نعیم اختر: شکریه جناب سپیکر۔

مولانا محمد مجاہد خان الحسینی: ما ته یو منټ را کړئ، دا غلام ربانی صاحب وائی چه د بهر نه دا غنم راغلی دی خراب، د دے ذمه داری په چا ده؟ تا سو له پکار دی چه د مرکزی وزیر تجارت مذمت دلته کښې اوکړئ۔ (قطع کلامی)

تعمیر سرحد پروگرام پر بحث

جناب سپیکر: جی مشتاق احمد غنی صاحب، تعمیر سرحد۔

جناب مشتاق احمد غنی: بسم اللہ الرحمان الرحیم۔ بہت شکریہ جناب سپیکر صاحب، کہ آپ نے مجھے موقع عنایت کیا۔

جناب سپیکر: میں تو کل بھی چاہتا تھا لیکن آپ موجود نہیں تھے۔

جناب مشتاق احمد غنی: Sorry for that sir جناب والا! تعمیر سرحد کا جب اعلان ہوا تھا تو ہم سب بڑے خوش تھے کہ اب ہم اپنے حلقوں میں فخر سے جائیں گے اور اپنے لوگوں کے کام کر سکیں گے اور پھر اس حکومت کا ایک سلوگن تھا کہ سستا انصاف ہوگا Doorsteps پر انصاف ہوگا، عادلانہ نظام ہوگا تو ہم سمجھتے تھے کہ اگر کوئی غلطیاں ماضی کی بھی ادوار یا حکومتوں میں ہوتی رہی ہیں تو موجودہ حکومت سے اس قسم کی غلطیوں کی توقع نہیں کی جا سکتی۔ جناب والا! تعمیر سرحد پروگرام جو ہے، میں سمجھتا ہوں کہ یہ Delay ہونے کی وجہ سے روز بروز اپنی افادیت کھوتا جا رہا ہے۔ ہمارے حلقوں میں حالت یہ ہے کہ لوگوں کا Confidence ایم۔پی۔ایز کے اوپر ختم ہوتا جا رہا ہے۔ ہمیں یہ Idea تھا کہ جب یہ اناؤنس ہوا تھا فلور پہ تو مہینے ڈیڑھ دو کے اندر ہماری سکیمیں آن گراونڈ چلی جائیں گے اور لوگوں کو اپنے کام ہوتے ہوئے اپنی آنکھوں سے نظر آئیں گے لیکن ہوا اس کے بالکل برعکس، جیسا کہ یہاں ساتھیوں نے کہا کہ اس کی پروسیجر اتنا Difficult ہے اور اتنا لمبا Process ہے جناب، میں یہ سمجھنے سے قاصر ہوں کہ پچاس لاکھ روپے ہمیں صوبائی حکومت دیتی ہے، سو اس کا ایک کریڈیٹ اگر حکومت کو جاتا تو ضرور ہے جو حکومت دے رہی ہے، اب اس کو Delay کر کے وہ سارا اس طرح اسکو Spoil کر دیا جاتا ہے کہ وہ کریڈٹ بھی حکومت کو نہیں جاتا۔ میری یہ گزارش کہ جب سی۔ایم صاحب نے اعلان کر دیا پچاس لاکھ فی ممبر تو بس اسکا چیک وہاں ڈی سی او کے پاس چلا جائے اور وہاں وہ کمیٹی بیٹھی ہوئی ہے ایم۔پی۔ایز اپنی سکیمیں بنا کر ان کو دے دیں تو وہ وہاں یہ Meeting میں دیکھ لیں گے کہ کوئی Over lapping تو نہیں ہو رہی اور وہ سکیمیں وہاں Sanction کر کے ایک لیٹر اوپر وزیر بلدیات

کو بھیج دیں کہ فلاں ایم پی اے کا آپ نے یہ فنڈ بھیجا تھا یہ اس کی سکیمیں ہیں اور یہ According to آپ کا جو لیٹر ہے اس کے مطابق ہیں، اس کے ساتھ کوئی اس کے علاوہ نئی کوئی سکیم اگر ہے تو وہی ڈی ڈی سی کی میٹنگ میں اس کو نکال دے گا وہاں سے، تو یہ کام اگر اس طریقے سے ہوتے اور وہی وہاں سے Executing agency کو وہ پیسے بھیج دیتے اور وہاں سے ٹینڈر لا کر کام شروع ہوتے تو میں نہیں سمجھتا کہ اتنی لمبی Exercise وہاں سے ڈی سی او، ڈی، سی او سے ڈی جی بلدیات، وہاں سے سیکرٹری بلدیات، وہاں سے منسٹر بلدیات، وہاں سے اے سی ایس، وہاں سے چیف منسٹر، اب چیف منسٹر تک چیز پہنچتی ہے۔ جناب، ان کے پاس اپنا Portfolio اتنا بڑا ہے، اس کا کام ہے اور جب چار پانچ وزارتیں بھی ان کے پاس ہیں تو یہ جو اتنی فائلیں جاتی ہیں، ہماری سمری بن کر یا تعمیر سرحد کے حوالے سے تو ان کو مہینے میں جب ٹائم ہو گا، ان فائل کو دیکھنے کا تو وہ پڑھیں گے بھی نہیں۔ یہ میں وثوق سے کہتا ہوں، وہ صرف اس کے اوپر ایک Initial کریں گے اور ہوتا ہر سٹیج پر Initial ہی ہے تو اتنا اس کو Delay کر کے میری یہ گزارش ہے کہ اس Process کی آپ آسان کریں، پیسے بھیج دیا کریں ڈی سی اوز کی پاس اور وہی پہ وہ Executing agency کو بھیجے اور میری اپنی سکیوں میں سر، ایک سکیم مجھے بعد میں تبدیل کسی وجہ سے کرنی پڑ گی۔ وہ تبدیل کر کے اب اس کے آج تین مہینے گزر گئے اور میں اس سارے Process میں ذاتی طور پر میں اپنی بات کر رہا ہوں کہ میں نے کوئی پچاس دفعہ مختلف دفاتر کے چکر لگائے تب جا کر میرے فنڈز ریلیز ہوئے، میرے سارے ریلیز ہو گئے لیکن جو سکیمیں پھر بدلیں، پھر وہ یہی Process اوپر تک جائے گا اور پھر اسی طریقے سے انہی دروازوں اور کھڑکیوں سے ہوتا ہوا واپس پہنچے گا تو یہ فنڈز Lapse ہو جائیں گے۔ پچھلے سال بھی، یہاں منسٹر صاحب بیٹھے ہوئے ہیں انہوں نے یہاں بھی اور اے ڈی پی کے اوپر جو ہماری میٹنگ ہوئی تھی، اس میں بھی یہ کہا تھا کہ 25 مئی تک ہمیں جو اپنی سکیمیں بھیج دیں گے تو ان کے فنڈز Lapse نہیں ہونگے اور میرے خیال میں ہم میں ہر ایک میں سے ایک کی 25 مئی سے پہلے سکیمیں چلی گئی تھیں لیکن اس کے باوجود وہ فنڈز lapse ہوئے اور اس Process کی وجہ سے اب اس کا ایک ہی Solution ہے کہ اس Process کو Short کیا جائے۔ صرف ڈی سی او تک ہمارا تعلق ہو، باقی لیٹر ان کے پاس گھومتا رہے اور ان کی Instruction کو Follow کرتے ہوئے ہم لوگ اپنی سکیمیں دیتے ہیں تو سر! اس پروسیجر کی میں سمجھتا ہوں قطعاً کوئی ضرورت نہیں ہے اور اس میں ایم پی ایز کو دفتروں کے اتنے زیادہ دھکے کھانے پڑتے ہیں کہ جس کی میں مثال نہیں پیش کر سکتا اور جو آپ کو یہاں پہ بعض Attendance کم نظر آئی ہے ایم پی ایز کی، ان کی بنیادی وجہ ہمارا تعمیر

سرحد پروگرام ہوتا ہے۔ یہ اکثر ایک دوسرے سے ملاقات ڈی جی بلدیات کے دفتر میں کرتے ہیں۔ سارے اپنے مسئلوں کیلئے وہاں پہنچے ہوتے ہیں۔ نمبر2 مسئلہ یہ ہے جی کہ اسمبیں، جیسا کہ یہاں پہلے بھی DDACکی بات کی تھی اور وہ اس وقت نہیں ہو سکا اور کمیٹی کے سپرد ہے، اسکی بے حد افادیت ہے اور ضرورت ہے۔ کئی سکیمیں ہماری Overlapہوئی ہیں، ایم پی ایز، ایم این ایز کی آپس میں کوارڈینیشن نہیں ہے، ایم پی ایز، ایم این ایز کی ڈسٹرکٹ گورنمنٹ کے ساتھ کوارڈینیشن نہیں ہے۔ اسی جگہ ہم سکیم دیتے ہیں اور ادھر ہی ناظمین سکیم دے دیتے ہیں تو اس کو بحال کیا جائے تو اس کے خاطر خواہ نتائج نکلیں گے، اس سے بھی آپ کا Process Speed up ہوگا اور یہ جو Overlapping کی وجہ سے Problems آتی ہیں جیسے میں نے ابھی ایک پرابلم کا ذکر کیا تو وہ مسئلے بھی وہیں پہ حل ہوں گے اور اس کے علاوہ جو انور کمال خان نے وہ لیٹر بتایا تھا جس میں نکات ہیں کہ کون کون سی چیزیں ہم شامل کر سکتے ہیں، میں سمجھتا ہوں جناب، اس میں کچھ چیزوں کی اور ایڈیشن کی سخت ضرورت ہے۔ چونکہ یہ پیسے عوام کی Developmentکیلئے ہیں، ان کے مسائل کے حل کیلئے ہیں اس لئے میں سمجھتا ہوں کہ جن علاقوں میں حجرہ نہیں ہے یا کمیونٹی ہال نہیں ہے، یہ شہروں میں زیادہ مسئلہ ہے، دیہاتوں میں اتنا مسئلہ نہیں ہوتا لیکن وہاں Congestedآبادی والے علاقے ہیں، وہاں لوگوں کیلئے کمیونٹی ہال یا حجرہ، پہلے تو قبرستان کی بھی اجازت نہیں تھی، I am thankfull to the Provincial Government کہ انہوں نے قبرستان کی اجازت دیدی۔ اب میری گزارش یہ ہے کہ حجرہ اور کمیونٹی ہال اور پلے گراونڈز کی بھی اجازت دی جائے، چونکہ بالکل یہ عوامی مسئلہ ہے، پلے گراونڈ کی اہمیت سے کس کو انکار ہے جناب، یا حجرہ کمیونٹی سنٹر کی اہمیت سے کس کو انکار ہے؟ تو آئندہ کیلئے اس کی بھی ہمیں اجازت دی جائے تاکہ ہم اپنی سکیموں میں اس کو شامل کریں اور آخری بات، آپ کی گھنٹی بج گئی، میں وہ ضرور کرونگا کہ ہمیں اس سال کیلئے یہ کہا گیا تھا اور ہم سارے بہت خوش تھے کہ ہمیں ایک ایک کروڑ روپے ملے گا اور پچاس لاکھ، منسٹر صاحب بیٹھے ہوئے ہیں، انہوں نے کہا تھا وہ پچھلا آپ کا پلس ہوگا تو ہوا یہ کہ وہ جون تک ملا نہیں اور ابھی جو ٹوٹل ایک کروڑ روپے کا وعدہ ہے، پچاس لاکھ جس میں سے چلے گئے اور پچاس لاکھ کی سیکنڈ، لیکن وہ ایک کروڑ پچاس لاکھ کا وعدہ تھا تو میری گزارش یہ ہے کہ آپ نے فلور پہ یہ Commitment کی تھی ہم سب سے اور اس سلسلے میں حکومتی اراکین ہم سے ملے ہیں اور وہ بھی بڑے ناراض ہیں کہ ہم نے اپنے حلقوں میں ڈیڑھ کروڑ کی سکیمیں اس حساب سے اناؤنس کر دی ہیں تو میری آپ سے جناب سپیکر، گزارش ہے کہ یہ معاملات ایسے ہیں کہ یہ انتہائی غور طلب ہیں اور اس حکومت کو ہدایت کی

جائے کہ وہ تعمیر سرحد کے بارے میں جو کہ خالصتاً عوامی فلاح و بہبود کا پروگرام ہے اور تمام ایم پی ایز کیلئے ہے، اس کی راہ میں حائل رکاوٹوں کو دور کیا جائے تاکہ ہم جلد از جلد ان سکیموں پر کام کر سکیں اور ہمارے اتنے بڑے پروسیجر سے وہ پیسے ختم ہی ہو جاتے ہیں۔ میں سمجھتا ہوں جتنا ٹائم اسمیں لگتا ہے اتنے ٹائم میں تو کولمبس نے امریکہ دریافت کر لیا تھا اور ہم تعمیر سرحد کے پیسے نہیں لے جا سکتے تو میری گزارش ہے کہ ہماری ان معروضات کو آئندہ کیلئے خاطر میں رکھا جائے۔ شکریہ۔

جناب سپیکر: شکریہ جی۔ جی، حاجی جمشید خان صاحب۔

جناب جمشید خان: بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ شکریہ جناب سپیکر صاحب، تاسو په تعمیر سرحد باندے ماله د خبرو موقع راکړه۔ جناب والا! دا تعمیر سرحد پروگرام چه کوم دے، داد ممبرانو، دوئ وائی حکومت مونږ باندے ددے ډیرزیات احسان جتاوئی چه مونږه دلته د ممبرانو سره مساوی سلوک کوؤ۔۔۔۔

جناب سپیکر: وضاحت ہو گئی، وہ کاشف اعظم صاحب نے وضاحت کر لی ہے۔

جناب جمشید خان: جناب والا! په دے کښ د احسان څه خبره خو نشته، مونږه هم د خپلو حلقو نه منتخب شوی یو نو که دا پیسے دلته دوئ مونږ له راکوی نو دا مرکز کښ هم اپوزیشن ته ملاویږی، دا څه داسے خبره نه ده او بله د یو کروړ روپو مونږ سره وعده شوے وه چه د هغے دا ټول هاؤس ګواه دے، چه ددے کال دپاره 2003-04 دپاره به تاسو له یو یو کروړ روپے درکوؤ، د هغے وعدے ایفا اونه شوه۔ جناب والا! څنګه چه زما نه مخکښ ټولو ممبرانو ددے په هغے تکالیفو او مشکلاتو باندے خبره اوکړه چه ددے به اول ډی ډی سی کیږی د ډی ډی سی نه وروستو بیا دا لوکل ګورنمنټ ته راشی ډی جی ته، بیا سیکرټری ته بیا منسټر ته بیا چیف منسټر ته بیا فنانس ته، دایودومره اوږد پروسیجر دے چه زما په خیال تاسو خوترے بے غمه یئی، مونږه ځوځو پیرے ددے دفترو چکر لګوؤ او زمونږه کار پکښ نه کیږی۔ ددے خو آسانه طریقه ده جی، چه کله پیسے منظور شوے نو دا چیک ډی سی او ته ځی او په آسانه باندے به هغه هلته کیږی او دومره تکلیف به پکښ نه وی۔ جناب والا، د 2003-04 دپاره چه کوم ممبرانو صاحبانو سکیمونه ورکړی وی، لسټ ما کتلے دے، هلته هغوی دومره پی اینډ ډی والا زما په خیال په دفترو کښ ناست دی،

